**مطبوعاتي اعلامیه**

**د الاقصی مسجد د ازادولو لپاره پاکستاني ځواکونه راوبلئ**

**د واقعي اسلامي خلافت په تاسیس سره، د مسلمانانو خلیفه ته دنده ورکړئ چې د روژې په مبارکه میاشت کې په پاکستاني ځواکونو باندې د مسلمانانو لومړنۍ قبله ازاده کړي**




د ۲۰۱۸م د مې په ۱۴مه او په قدس شریف کې د امریکا د سفارت د افتتاح په ورځ یهودي دولت یو ځل بیا جنایت وکړ. یاد دولت د مسلمانانو د ډال (خلافت دولت) په نشتون کې زموږ ۵۹ تنه ورونه چې ۷ تنه یې ماشومان وو شهیدان او ۲۷۰۰ نور یې ټپیان کړل. دا جنایت په داسې وخت کې کېږي، چې د اسلامي نړۍ رهبرانو د فلسطین او د قدس د ازادولو لپاره د اسلامي هېوادونو د میلیونونو زړورو ځواکونو د لېږلو پرځای، د امریکا د لوبو د وسیلې «ملګرو ملتون سازمان» ته لیک واستوه او د لاریونونو په ترسره کولو سره یې هغوی محکوم کړل. د پاکستان بې رحمه رهبران هم له دې کاروانه شاته نه دي پاتې، یوازینی کار یې د داسې بیانیې اعلانول و چې د یادونې وړ نه ده.

په داسې حال کې چې د پاکستان بې رحمه رهبران د زرګونه قوي ځواکونو امیران دي، خو بیا یې هم هېڅ ونه کړل او دوی تل په دغو عسکرو باندې د واشنګټن امرونه پر ځای کوي، چې په هغو جګړو کې یوازې او یوازې د امریکا ګټې دي. هغوی هېڅ نه کوي، په داسې حال کې چې د درېیم شاهین د راکټونو د امر مسولیت لري، چې کولی شي پر مټ یې د یهودي دولت ځواکونه له منځه یوسي. که راکټونه استفاده هم نه کړي، بلکې یوازې د پاکستان لوديځو پولو ته د درېیم شاهین راکټونه لېږدول به هم د دغه بې رحمه هېواد پښې ورلنډې کړي. دغه رهبران هېڅ نه کوي، په داسې حال کې چې د دغه هېواد اوسېدونکي به د دولت د هر ډول

گام پورته کولو تر شاه ولاړ وي او د روژې په مبارکه میاشت کې به د هغوی د بریا لپاره دعاء کوي او خپل بچیان به د نظامي تمرینونو او زمونږ د وسله والو ځواکونو د شمېر د زیاتېدلو لپاره ورولېږي.

**اې د پاکستان مسلمانانو!** د فلسطین شهیدان به هېڅ کله خفه نه شي، ځکه هغوی د الله سبحانه وتعالی په لاره کې سترې قرباني ورکړې، چې د اخرت لپاره یې تر ټولو ښه پانګه ده. دا پر مونږ ده چې په دې روژه کې تر اوسه ژوندي یو ترڅو خپلې دغې وجیبې ته په سیاسي بلوغ او بېدارۍ سره ژمن پاتې شو او په خپلو سیاسي فعالیتونو سره په امت کې بنسټیز بدلون راولو او ظالمانو ته یوازې په قهر بسنه ونه کړو. راځئ چې په دې خطرناک حالت کې له هرې شېبې ګټه واخلو او د اسلامي نړۍ پر رهبرانو غږ وکړو چې د امت چیغه واوري او نور د دین، مقدساتو او اسلامي خاورو پر ضد کړنې بس کړي. الله سبحانه وتعالی فرمایي:

**﴿قَاتَلَهُمُ اللَّهُ أَنَّىٰ يُؤْفَكُونَ﴾**

[منافقون: ۴]

***ژباړه:*** *الله سبحانه و تعالی دې هغوی ووژني، څرنګه له حق څخه مخ اړوي؟*

د دښمن نظامي کړنې ته باید په نظامي غابښ ماتوونکې کړنې ځواب ورکړل شي، نو دا پر مونږ ده چې ژر تر ژره پر خپلو وسله والو ځواکونو غږ وکړو چې له خپلو شته تجهیزاتو سره د امت چیغه واوري. مونږ باید پر هغوی غږ وکړو چې د خپلو خاینو رهبرانو غاړه ماته او اطاعت ترې ونه کړي. همدغه خاین رهبران دي چې په فلسطین، میانمار(برما)، اشغال شوي کشمیر او نورو تر ظلم لاندې استعمار شوو سیمو کې زمونږ د مظلومو وروڼو د مرستې غوښتلو خنډ ګرځي. مونږ د روژې په دغې مبارکه میاشت کې له هغوی څخه غواړو، چې د نبوت پر تګلاره د راشده خلافت د بیا تاسیس لپاره حزب التحریر ته نصرت ورکړي او د دغو وسله والو ځواکونو په مرسته اسلامي امت د رسول الله صلی الله علیه وسلم زېري ته چې راشده خلافت دی ورسوي. امام مسلم له حضرت ابو هریره رضی الله تعالی عنه روایت کړی، چې رسول الله صلی الله علی وسلم وفرمایل:

**«لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى يُقَاتِلَ الْمُسْلِمُونَ الْيَهُودَ، فَيَقْتُلُهُمُ الْمُسْلِمُونَ»**

**ژباړه:** قیامت به تر هغه رانه شي ترڅو چې مسلمانان د یهودو پر وړاندې جنګېدلي نه وي، له شک پرته چې مسلمانان به پرې غالب شي.

په بل روایت کې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

**«تُقَاتِلُكُمْ يَهُودُ، فَتُسَلَّطُونَ عَلَيْهِمْ»**

***ژباړه:*** *یهودان به له تاسو سره جګړه وکړي او تاسو به پرې برلاسي شئ.*

**د حزب التحریر- ولایه پاکستان مطبوعاتي دفتر**

د صدور ګڼه: PR۱۸۰۳۴

۱۴۳۹هـ.ق، د شعبان ۲۹مه

۲۰۱۸م، د مې ۱۵مه